بسم الله الرحمن الرحيم

# د غزې ښځې د خپلو شهيدو ماشومانو د جوړو جسدونو په موندلو د الله سبحانه وتعالی حمد وايي

**خبر:**

د اپريل په ۲٦ مه، «Middle East Eye» په غزه کې د هغو ميندو د کړاوونو په اړه راپور ورکړ چې په بمباريو کې له جلا کېدو وروسته يې ماشومان شهيدان شوي. ډيری نارينه يا شهيدان شوي او په ډله ايزو قبرونو کې ښخ شوي يا برمته شوي او په نامعلومو ځايونو کې بنديان دي چې بيا هيڅکله نه ليدل کيږي. ډير داسې کېږي چې ماشومان د لوبو پر مهال پر هغو ډرون الوتکو ويشتل کېږي چې په ځانګړې توګه ماشومان هدف ګرځوي. دا خبره چې د غزې ښځې په داسې حالت کې د خپلو ماشومانو دجسدونو پيدا کېدو ته خوشاله کېږي چې ټوټې شوي نه وي او ټول جسد يې په لاس ورشي؛ خورا ډيره ټکان ورکوونکې ده! دا دی د غزې وحشت! دا دی د غزې د مظلومو ميندو حال!

**تبصره:**

ډيری ښځو په جګړه کې نارينه، کوچني او لويان، له لاسه ورکړي او ډيری نورې په يوازې ځان په خپلو بچيانو پسې ګرځي؛ په تش لاس ړنګې ودانۍ او کورونه ګوري يا په هغو سيمو کې چې يهودي رژيم له ړنګولو وروسته پرېښې، په کيلومترونو مزل کوي.

له الشفا روغتون څخه راټولو شويو شواهدو کې د يهودي رژيم ظلم، وحشت او له جسدونو سره د دوی چلند ښه وينو. ډيری جسدونه په داسې حال کې پيدا شوي چې لاسونه يې تړلي وو، د بدن غړي يې پرې شوي او د شکنجې ښکاره نښې پکې ښکاريدې. زموږ د خويندو لپاره تر دې بوږونکي دا ده چې د ماشومانو جسدونه يې له زندانه په داسې حال کې ورته راوړي چې ډيری وخت يې د بدن غړي نه وي. يهودي رژيم ته د تنکيو ځوانانو برمته کول او شکنجه عادي کار دی او د خپل وحشت د قربانيانو سن او جنسيت ورته مهم نه دی.

زموږ د درنو او باعفته ميندو زړونه ځورېږي او دردېږي؛ خو د هيچا زړه نه پرې سوځېږي چې مرستې ته يې ورشي. په تيرو اوو مياشتو کې مو وليدل چې د توکم پالنې او حرص ليبرال پانګوال نظام څنګه په غزه کې هر ډول وحشي کړنو ته اجازه ورکړه او خلک په هر حالت کې د دغه ظالم نظام پيروی ته اړ باسي.

زمونږ اميرالمومنين چېرته دی چې د میندو حقونه ورکړي!؟ د صلاح الدين ايوبي او عمر ابن خطاب په څېر اتلان چېرې دي چې د صالحې مسلمانې ښځې د زړه ازارولو لپاره د يوې کليمې منلو ته هم حاضر نه وي.

**«وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاء فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ»**[النور: ۴]

**ژباړه:** *«او څوک چې په پاکلمنو ښځو تور ولګوي، بيا څلور شاهدان تير نه کړي، هغوی اتيا دورې ووهئ او د هغو شاهدي هېڅکله مه منئ او هغوی پخپله فاسقان دي.»*

**«إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ»**[النور:۲۳]

**ژباړه:** *«بېشکه څوك چې پاکلمنې او (له هر ډول چټلیو) ناخبرې او پاک زړې مومنانې تورونوي، په دنيا او اخرت کې له الهي رحمته لرې دي او د هغو لپاره لوی عذاب دی.»*

اې د محمد صلی الله عليه وسلم امته! پر ناسمو او بې ارزښتو حللارو د وخت ضايع کولو او سترګو پټولو وخت نه دی. خلافت ته کار وکړئ او په شته امکاناتو يې ملاتړ وکړئ او له دنيوي عذاب او ګواښ پرته د خپل رب غوښتنه ومنئ. هغه به په جنت کې لوړ مقام درکړي، انشاالله!

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**عمرانه محمد**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**

**۱۴۴۵هـ.ق کال، د شوال ۲۸مه**

**۲۰۲۴م کال، د مې ۷مه**